# د ۸ صبح

د پرون روایت د نن هینداره د سبا زېری

## پښتو مجله

لومړی کال ◆ ۲۲ مه گڼه ◆ شنبې، د ۱۳۹۹ د مرغومي ۲۰ مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ






عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.

**سولې مذاکرات خو پیل شول؛ خو دا جگړه ولې زموږ له غاړې لاس نه اخلي!؟**
**که روسانو راوړې وه، یا امریکایانو کرلې وه؛ خو اوس یو هم جنگي لوري په توگه نشته!**
**نو په دې وطن، چې موږ یو یو یې جنت‌نښان، گڼو، د کوم حق له مخې، د یو بل سر، ازادۍ او مال ته، لاس وراچولای شو!؟ چې زړه یې وي، سوله له دې اوسه جوړه ده.**

۸ صبح
د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زېری

# سرکرښې

## د مذاکراتو دوهم پړاو؛ تمې او هیلې

په دوحه کې د افغان دولت او طالبانو د مرکچي پلاویو ترمنځ د سولې دوهم پړاو مذاکرات داسې مهال پیلېږي، چې په کلیوالو سیمو کې جګړه روانه ده او په ښارونو کې هم د مقناطیسي ماینونو او هدفي بریدونو له امله په خلکو کې وېره خپره ده.

که څه هم د سولې په خبرو کې لا هم د دواړو اړخونو ترمنځ واټن زیات ښکاري او ګرانه به وي چې ژر دا واټن راکم شي، خو دا چې د خبرو له بیا پیل سره سم زلمی خلیلزاد افغانستان، قطر او د سیمې هېوادونو ته سفر کوي، داسې ښکاري چې امریکا غواړي دا بهیر چټک پرمختګ وکړي.

له بلې خوا افغان اولس د خبرو له دواړو لوریو غواړي، ژر تر ژره تاوتریخوالی پای ته ورسوي او اوربند ټینګ شي، چې د ملکي افغانانو د قرباني کېدو مخه ونیول شي.

د تاوتریخوالي د کمولو موضوع دومره هم پېچلې نه ده چې دواړه لوري ونه توانېږي پرې توافق وکړي.


که چېرې د دواړو لوریو ترمنځ د باور او اعتماد فضا رامنځته شي ښایي طالبانو ډله د تاوتریخوالي کمولو او بالاخره اوربند ته غاړه کېږدي.

د افغانستان د دولت او طالبانو تر منځ د ۲۰۲۰ کال په وروستیو دریو میاشتو کې د خبرو د طرزالعمل پر سر مذاکرې لانجمنې وې خو دواړه خواوې په دې برخه کې هوکړې ته ورسېدل چې له مخې یې دا دی د خبرو بل پړاو پیل شو.

په داسې حال کې چې ددولت مرکچ پلاوی وایي د اوربند موضوع یې د خبرو په سر کې ده خو طالبانو دغې مسلې ته د وړاندیزونو په پای کې ځای ورکړی دی.

که څه هم د دولت مرکچي پلاوی اوربند طالبانو ته اساسي وړاندیز بولي خو دغې موضوع ته د طالبانو لیدتوګو ته په پام سره لېرې ښکاري چې دغه پلاوی په لومړي ګام کې دې موخې ته ورسېږی. نو ښه دا ده چې د دولت مرکچي پلاوی د تاوتریخوالي د پام وړ کمښت ته زیاته پاملرنه وکړي، ځکه داسې اټکل کېدای شي چې طالبان به اوس یوازې د تاوتریخوالي کمولو ته غاړه کېږدي.

داسې ښکاري د لومړنیو ګامونو له پورته کولو پرته پر اوربند هوکړه یوه غیر عملي تمه ده، ځکه په مذاکراتو کې له پرمختګ پرته زر ترزره دا تمه نشي کېدای. له دې امله که مرکچي پلاوي د خبرو د دوهم پړاو په لومړیو کې د تاوتریخوالي د پام وړ کمښت په اړه هوکړې ته ورسېږي یوې لویې موخې ته به رسېدلی وي.




# لیکلړ


- د سولې مذاکراتو دوهم پړاو؛ په دې پړاو کې تر ډېره... ۱
- د سولې مذاکرات او ننګونې ۲
- زلمي خلیلزاد د سولې خبرو په دوهم پړاو کې د پرمختګ ... ٤
- ارګ: د بهرنیو ځواکونو تلفات په دې دلیل صفر شوي... ٥
- پر کابل پوهنتون د برید پلانوونکی په اعدام محکوم شو ٦
- د غور غږ رادیو مسوول مدیر ووژل شو ۷
- د ۳۰ زره بې اسنادو موټرو ثبتول؛ د یو کیلي موټرو د ثبتولو... ۸
- لنډۍ ۱۰
- مریدنامه ٥ ۱۱
- د عبدالرحمن بابا د نړۍ لید او هیمونیزم ۱۲
- د خصوصي ترانسپورت په برخه کې د فساد په اړه اندېښنه ۱٤
- ولسي جرګې د دولتي کارکوونکو د معاشونو د یو شان کولو طرحه... ۱٦
- د کندهار لپاره نوی والي او د ملي امنیت رییس معرفي شول ۱۷
- په سمنګان کې د ډبرو سکرو د یوه کان د نړېدو له امله درې تنه مړه شول ۱۸
- په هلمند کې د سلګونه مېرمنو لپاره د کاري زمینې برابرول ۱۹
- د ۸صبح انګلیسي وېب پاڼه فعاله شوه ۲۰



د ۸ صبح له نشراتو څخه:
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: ا.و.سمندر
سکرتر: محمد ظریف صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان



0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af

# د سولې مذاکراتو دوهم پړاو؛ په دې پړاو کې تر ډېره د جګړې پر بندولو بحث کېږي



◆ م. ظ. صميم

د افغان دولت مرکچي پلاوی د بين الافغاني مذاکراتو د دوهم پړاو لپاره د سه شنبې په ورځ په ورځ قطر ته ورسېد او ټاکل شوې په دې پړاو کې د دولت مرکچي پلاوی د نورو موضوعاتو ترڅنګ د جګړې پر بندولو خبرې وکړي.

د ملي روغې جوړې عالي شورا وايي چې د مذاکراتو په دوهم پړاو کې به تر ډېره په افغانستان کې د جګړې پر بندولو او د اوربند پر ټينګښت بحث وشي.

له دوحې څخه د رپوټونو له مخې، د افغان دولت او طالبانو د مرکچي پلاويو مقدماتي ناسته د چهارشنبې په ماښام ترسره شوه او پرېکړه وشوه چې د شنبې په ورځ د دواړو لوريو له خوا د اجنډا د موضوع ګانو په اړه خبرې پيل شي .

په قطر کې د سولې له خبرو سره هم مهاله په افغانستان کې جګړې او تاوتريخوالي زور اخيستی او د په بېلابېلو ولايتونو کې د جګړو او د په پلازميني کې د هدفي وژنو او چاودنو له امله ګڼ شمېر ملکي کسان مړه او ټپيان شوي دي.

د ملي روغې جوړې د عالي شورا وياند فريدون خوځون وايي چې په افغانستان کې د ټولنې له بېلابېلو پرګنو سره په سلا مشورو کې د جګړې د بندولو غوښتنه شوې .

د افغان دولت د مرکچي پلاوي مشر معصوم ستانکزي ويلي چې دوی هيله من دي د خبرو په دوهم پړاو کې دواړه لوري د جګړې پر بندولو سره سلا شي .

د افغان دولت او طالبانو مرکچي پلاويو د سپتمبر په ۱۲مه په قطر کې د سولې خبرې پيل کړې، چې تر دريو مياشتو بحثونو وروسته د خبراتو پر کړنلار او مقدمې هوکړه وشوه، چې وروسته د دريو اوونيو لپاره دواړو لوريو د سلامشورو لپاره دا خبرې ودرولې.

# د سولې مذاکرات او ننګونې




◆ **لیکنه: آسیه حمزه اي**

◆ **ژباړه: م. ع. پ**

د سولې مذاکراتو د لومړي او دویم پړاو د دمې ترمنځ د افغان دولت مرکچي پلاوي غړیو د ټولنې له بېلابېلو پرګنو او ډلو سره لیدنې کتنې وکړې. که څه هم په دې لیدنو کې ښځو، مدني ټولنې، د جګړې قربانیانو او ځوانانو ته د مرکچي پلاوي د غړیو د ځواب ورکولو بهیر جزئیات له ځان سره نه لرل، خو همدغه تعاملي بهیر کولی شي چې د مذاکراتو د اجنډا د غښتلتیا او انسجام او د هېوادوالو د غوښتنو د ناندریو لپاره ګټورې ثابتې شي.

د سولې خبرواترو د دویم پړاو په درشل کې، د ډیالوګ او پرمختګ ملي مرکز د مرغومي په دیارلسمه، «د سولې خبرې اترې» تر سرلیک لاندې د ځوانانو او د مرکچي پلاوي ترمنځ د نظریاتو د تبادلې په موخه پروګرام جوړ کړ. دغه پروګرام د مرکچي پلاوي د غړیو غلام فاروق مجروح او محمد ناطقي په ګډون ترسره شو.

**د سولې خبرې اترې، د ټولنې د پېژندل شویو څېرو او ځوانانو ترمنځ په نهو برخو «انتقالي عدالت»، «د جګړې شهیدانو او قربانیانو»، «زده کړو او تحصیل»، «د بیان آزادی»، «ښې حکومتولۍ»، «د طالب جنګیالیو د بیا ادغام» او «له سولې وروسته دولت او د ښارونو او ولسوالیو ترمنځ د اړیکو کړنلارې» په اړه د ناستو نور**

**پړاوونه په کابل او ولایتونو کې ترسره کوي.**

د افغان سولې د مرکچي پلاوي غړي غلام فاروق مجروح په دې ناسته کې، د ګډونوالو د پوښتنو د اوریدو ترڅنګ ټینګار وکړ: «په هېڅ صورت د طالباني امارت بېرته راتګ د منلو نه دی». هغه د خپلو خبرو په دوام وویل چې د مذاکراتو پرمهال یې څو ځله طالبانو ته ویلي چې نننی افغانستان پرونی افغانستان نه دی؛ اوس افغانستان متخصص، لوستي او پوه ځوانان لري چې ډېر ملي او نړیوال ویاړونه یې د هېواد لپاره ګټلي دي، له دغو ځوانانو هر یو یې په نړیوال ډګر کې د ویلو لپاره یو څه لري او نړیواله ټولنه د هغوی غږ اوري.

مجروح وویل هغه څه چې باید څرګند شي، دا دي چې خبرې اترې ښایي په سولې پای ته ونه ورسېږي، په دې دلیل موږ د هرې سولې په لټه کې نه یو، تمه نشته چې داسې سولې ته لارسی وموږ چې په هغې کې قرباني ورکړو. هغه وویل، کله چې په دوحه کې د سولې مذاکراتو په لومړي پړاو بوخت وو، په ساعتونو مو له طالبانو سره د کاري کړنلارې پر سر بحثونه کول، په ناڅاپي ډول جګړې شدت وموندل، هم په کابل او هم په ولایتونو کې د افغان پوځیانو او ملکي خلکو بې رحمانه وژنو شاهدان وو، دغه بریدونه په حقیقت کې په مذاکراتو کې د امتیاز اخیستلو لپاره د طالبانو هڅه وه. هغه وخت به خبرې اترې یوې پایلې ته ورسېږي چې طالبان د جګړې د ختمولو او د سولې ټینګښت لپاره رښتینې اراده ولري.

**مجروح همدارنګه وویل، چې د سولې او د جګړې د ختمولو پر سر د هوکړې په صورت کې، نړیوال ضمانت ته اړتیا ده او نړیواله ټولنه باید دا هوکړه تضمین کړي، پرته له دې به ماتېدونکې هوکړه ولرو.**

د نوموړي په وینا، د مذاکراتو بهیر د هېواد د ۳۰ میلیونه وګړو د برخلیک ټاکلو په معنی دی او باید په بېړه یې په لټه کې ونه اوسو. دا چې ځینې د مرکچي پلاوي ډېری غړي په حکومت پورې تړلي ګڼي، مجروح په دې اړه نیوکه وکړه او ویې ویل: «د مرکچي پلاوي ډېری غړي، د خلکو او د سیاسي ګوندونو استازي دي چې د خلکو او د ټولنې بېلابېلو پرګنو په استازولۍ په دې پلاوي کې ګډون لري.»

د مرکچي پلاوي دغه غړي وویل، موږ باید هېر نه کړو چې هېڅوک او یا بهرنی هېواد د افغانستان د خلکو د راتلونکې په ګټه فکر نه کوي، بلکې هغوی ټول په دې بهیر کې خپلې ګټې لټوي او د خپلو ګټو په اساس حرکت کوي.

د افغان دولت مرکچي پلاوي بل غړي، محمد ناطقي هم د دې خبرو اترو په ترڅ کې د مذاکراتو د جزئیاتو د نه بیانولو ترڅنګ وویل: «د دواړو پلاویو ترمنځ له اساسي توپیرونو یو دا دی چې د دولت پلاوی ټول ګډونه دی، د دولت په مرکچي پلاوي کې څلور ښځې، علما، ځوانان او سیاسي ګوندونه ګډون د خبرواترو پر غښتلتیا او د بحثونو پر څواکمنتیا ډېر اغېز لري.

په دوحه کې مو د اسلامي نړۍ له علماوو سره دري مهمې ناستې لرلې چې پایله یې د رضایت وړ وه، د اسلامی نړۍ علماوو فتوا ورکړه چې په افغانستان کې د طالبانو جګړه «شرعي جواز» نه لري. دغې موضوع پر طالبانو ډېر فشار راوست، آن طالبانو څو ځله د اسلامي نړۍ له علماوو سره په قطر کې ناستې وکړې او ټینګار یې درلود چې هغوی ته څرګنده کړي چې دوی جګړه نه بلکې جهاد کوي.

**ناطقي وویل چې دواړه پلاوي په څرګند ډول نشي کولی د ټولو مسائلو په اړه خبرې اترې وکړي، موږ په دې مذاکراتو کې د سولې د چوکاټ په اړه هوکړه کوو او له هغې وروسته به جلا کمېټې جوړې شي چې په هره موضوع به په جزیاتو سره بحثونه کوي.**

د افغان دولت مرکچي پلاوي دې غړي ټینګار وکړ: «په حقیقت کې اوسمهال د مذاکراتو مېز د حکومتولۍ دوو بېلابېلو ډولونو ترمنځ بحثونه دي. په دې منځ کې هغه څه چې څرګند دي، دا دي چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د دې هېواد سیاسي نظام په نړیواله کچه مشروعیت لري او دا یعنې د هېواد د دوو وروستیو لسیزو لاسته راوړنو له پامه غورځول په هېڅ ډول د منلو وړ نه دي.»

ناطقي د ۲۰۲۰ کال په فبرورۍ کې د امریکا او طالبانو ترمنځ لاسلیک شوي هوکړه لیک ته په اشارې سره وویل: «هغه ټکي چې د دې لامل شول د سولې خبرواترو بهیر کله ناکله ټکنی شي، دا دی چې موږ نه غواړو هغې سولې ته ورسېږو چې د هېواد ملي ګټې، د هېوادوالو غوښتنې او د خلکو حقونه یکې قرباني شي. په وروستیو میاشتو کې او د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه لیک له لاسلیکولو وروسته آن یو امریکایي سرتېری هم ونه وژل شو؛ خو په بل لور ته په کابل او ولایتونو کې افغان پوځیان او ملکي وګړي په پراخ ډول ووژل شول، دا موضوع په څرګند ډول د افغانانو او د ملکي وګړو لپاره د جګړې د ختمولو اړوند د امریکا او طالبانو د ښه نیت کچه ښیي.»

د دې پروګرام په پله برخه کې، د سولې په چارو کې د دولت وزارت استازي، ښاغلي عالمي وویل چې په دې خبرواترو کې به د سولې مذاکراتو د لومړي پړاو په اړه له ۲۰ څخه ډېرې آنلاین غونډې په کابل او ولایتونو کې ترسره شي. نوموړي همدارنګه وویل چې دا وزارت په پام کې لري د ټولنې له بېلابېلو پرګنو د نظریاتو او غوښتنو د راټولولو او مرکچي پلاوي ته یې د استولو په موخه له ښځو، ځوانانو او د جګړې له قربانیانو سره ناستې ترسره شي. د سولې د مذاکراتو په اړه ناسته کې د مدني ټولنې ځینو فعالینو په مرکچي پلاوي کې د مدني ټولنې د استازو پر نه شتون نیوکه وکړه او د مذاکراتو په دویم پړاو کې یې د دوی د استازو پر ګډون ټینګار وکړ.

د سولې مذاکراتو لومړي پړاو له ۹۰ ورځو ډېر وخت ونیوه او په دې پړاو کې پراخ اختلافات هم موجود وو.

# زلمي خليلزاد د سولې خبرو په دوهم پړاو کې د پرمختګ لـپـاره هيله مـنـدي څرګنده کـړه



◆ **م. ظ. صميم**

د افغانستان د سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد چې يو ځل بيا يې د افغان سولې په اړه هڅې پيل کړې د سه شنبې په ورځ پاکستان ته له سفر وروسته په کابل کې د سولې عالي شورا له رييس عبدالله عبدالله، د ولسمشر د ملي امنيت له سلاکار حمدالله محب، د بهرنيو چارو له وزير حنيف اتمر، پخواني ولسمشر حامد کرزي، پخواني جهادي مشر عبدرب الرسول سياف او نورو سياسي څېرو سره وکتل.

زلمي خليلزاد ويلي، قطر او څو نورو هېوادونو ته په دې هيله سفر کوي، چې د سولې د مذاکرو په بل پړاو کې د پام وړ پرمختګ وشي.

**د امريکا ځانګړی استازی په افغانستان کې د تاوتريخوالي پر زياتوالي اندېښنه څرګنده کړې او د دغو تاوتريخواليو پر کمولو يې ټينګار کړی دی.**

د ملي روغې جوړې د عالي شورا رييس عبدالله عبدالله د سولې په مذاکراتو کې پرمختګ د رضايت وړ بللی او ويلي يې دي چې د خبرو دوهم پړاو پيلېږي او د افغانستان د اسلامي جمهوريت پلاوی د خبرو د پيلولو لپاره د نظام په کلک ملاتړ دوحې ته تللی دی.

له بلې خوا، دوحې ته د افغان دولت د مرکچي پلاوي له سفر سره په يو وخت، په کابل کې د ملګرو ملتونو سازمان دفتر يو ځل بيا له دولت او طالبانو غوښتي چې د تاوتريخوالي د کمولو لپاره هڅې وکړي. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو سازمان د عمومي منشي ځانګړې استازې ديبرا لاينز ويلي: «**زه له دواړو لوريو غواړم چې له فرصته په استفادې د تاوتريخوالي د کمښت زمينه برابره کړي ترڅو د افغانانو وژل پای ته ورسېږي او يو سياسي ثبات رامنځته شي چې د ټولو افغانانو لپاره د منلو وړ وي.**»

د ملګرو ملتو سازمان د عمومي منشي استازې ټينګار کړی چې د جګړې بندول د خبرو لپاره ښه فضا رامنځته کوي، خلکو ته هيله وربښي او بشر دوستانه مرستندويانو ته اجازه ورکوي چې په ټول هېواد کې خلکو ته اړينې ژغنې مرستې ورسوي.

په کابل کې د ملګرو ملتونو د استازولی دفتر ټينګار کړی چې د دوحې مذاکرات د جګړې د پای ته رسولو او تلپاتې سولې د ټينګښت لپاره ډېر مهم دي. يوناما ټينګار کوي چې له دواړو لوريو سره له نږدې په تماس کې دي او د اړتيا په صورت کې دغه سازمان مرستې ته چمتو دی.

اخوا، په کابل کې د فرانسې سفارت هم ويلي: دوی د افغانانو تر څنګ ولاړ دي چې د سولې مستحق دي، داسې سوله چې د ډيموکراتيکو ارزښتونو د خونديتوب لامل شي.

دغه سفارت د باور جوړونې او د مذاکراتو د برياليتوب لپاره په افغانستان کې د هدفي وژنو پای ته رسېدل او د اوربند ټينګښت مهم بللي دي.

**اخوا، د بشري حقونو خپلواک کمېسيون هم د دولت او طالبانو د مرکچي پلاويو مشرانو ته په ليک کې له هغوی په مذاکراتو کې چټک اوربند، د قربانيانو حقونو او بشري حقونو ته د پاملرنې غوښتنه کړې ده.**

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون ويلي چې دغو خبرو د جګړې د پای ته رسولو او تلپاتې سولې د راتلو لپاره يو تاريخي فرصت برابر کړی دی.

دغه بنسټ ويلي چې د تاوتريخوالي دوام، ملکي تلفاتو او د خلکو مالي زيانونو سولې ته هيله مندي کمه کړې ده.

**د بشري حقونو خپلواک کمېسيون ټينګار کړی چې دواړه لوري بايد د اوربند او پر اوربند د څارنې او همداراز د هدفي وژنو په شان پېښو په اړه د څېړنو په موخه يوه ګډه کميته جوړه کړي.**

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون ويلي چې د اساسي او قانوني حق په توګه د جګړې قربانيان د خبرو له دواړو لوريو غواړي چې غږ يې واورېدل شي او د تاوتريخوالي او جنايتونو د پای ته رسولو په اړه د دوی غوښتنو ته درناوی وکړي.

# ارگ: د بهرنیو ځواکونو تلفات په دې دلیل صفر شوي چې طالبان د افغانانو په وړاندې جنگېږي

◆ ژباړه: محمد عزیز پردېس

ولسمشرۍ ماڼۍ د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو د خبرو په غبرگون کې ویلي دي: «اوس طالبان د افغانستان د خلکو پر وړاندې» جگړه کوي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر په خپلو تازه څرگندونو کې ویلي چې په تېر یوه کال په افغانستان کې هېڅ امریکایي پوځ نه دی وژل شوی.

د ولسمشر مرستیال ویاند دواخان مینه پال د مرغومي په څوارلسمه وویل چې د بهرنیو ځواکونو تلفات په دې سبب صفر شوي چې امنیتي ځواکونه په یواځې توگه د جگړې مشري کوي.

د نوموړي په وینا طالبان اوس د افغانانو او حکومت پر وړاندې جنگېږي او د خلکو تلفات په دې جگړه کې ډېر لوړ دي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو شنبه ماښام په خپل یو ټوېټ کې اعلان وکړ چې د تېر یوه کال په اوږدو کې په افغانستان کې هېڅ امریکایي سرتېری نه دی وژل شوی.

پمپیو د سولې مذاکراتو ته په اشارې سره ویلي دي چې افغانان په خبرواترو بوخت دي چې هوکړې ته ورسېږي.

په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو د تلفاتو شمېر ۲۰ تنه اعلان شوي و.

طالبانو د دې هوکړه لیک له لاسلیکولو وروسته د بهرنیو ځواکونو پر وړاندې خپل بریدونه ودرول، خو پر افغان امنیتي ځواکونو لا هم د دوی بریدونه دوام لري.

له دې مخکې د ملي امنیت عمومي رییس، احمدضیا سراج اعلان وکړ چې د تېر یو کال په اوږدو کې په هېوادا کې د پوځي او ملکي اهدافو په موخه ۱۸ زره او ۲۰۰ ترهگریز بریدونه ترسره شوي چې ۹۹ سلنه دغه بریدونه د طالبانو ډلې له خوا شوي دي.

سراج د دغو پېښو تلفات په مشخص ډول اعلان نه کړل، خو ویې ویل چې په دغو پېښو کې تر ډېره ملکي وگړي وژل شوي دي.





# پر کابل پوهنتون د برید پلانوونکی په اعدام محکوم شو

**ژباړه: محمد عزیز پردېس**

د کورنیو چارو وزارت وایي، طارق آرین ویلي چې پر کابل پوهنتون د برید پلانوونکی چې عادل نومېږي د یوې علني محاکمې پرمهال په اعدام محکوم شو.
د کورنیو چارو وزارت وایي د مرغومي په دوولسمه په خپل ټوېټر کې دا موضوع شریکه کړه.
د سترې محکمې د اعلان په اساس، محمد عادل د ترهګریز پلان جوړولو، ترهګرو او سرې تبنتونو د فعالیتونو په تور په اشد مجازات یعني اعدام محکوم شوی دی.
همدارنګه د عبدالله په نوم یو بل تورن ته د داعش ډلې د غړیتوب، مین ایښودلو، د چاودېدونکو توکو د لېږد او د سرې تبنتونو په تور د ۲۵ کاله تنفیذي بند سزا واورول شوه.
همداراز عبدالکبار او خدابخش د ملي خیانت، د داعش ډلې د غړیتوب او سرې تبنتونې په تور په ۱۲ کاله بند محکوم شوي دي.
په همدې توګه د اظهارالدین په نوم یو تورن نغدي جریمه شوی او سترې محکمې یو بل تورن د لازمو دلایلو د نه لرلو له امله بې ګناه بللی دی.
د دغو اشخاصو لومړنۍ محکمه د مرغومي په لسمه نېټه ترسره شوه. ستره محکمه وایي: تورنو وګړو ته ویل شوي چې د استیناف غوښتنې حق یې په ټاکلي وخت کې خوندي دی.
پر کابل پوهنتون برید د روان کال د لړم میاشتې په دولسمه نېټه وشو. ویل شوي چې دغه برید د دوو بریدکوونکو له خوا ترسره شوی دی.
د چارواکو په وینا په دغه برید کې ۲۲ تنه مړه او ۲۷ ټپیان شوي ؤ. د دې برید مسوولیت داعش ډلې پر غاړه واخیست، خو دولت د دې برید پړه پر طالبانو واچوله.
وروسته له هغې د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح د دې پېښې د عاملینو د نیولو خبر ورکړی ؤ.

# د غور غږ راديو مسوول مدير ووژل شو

**◆ د ۸صبح پښتو مجله**

د غـور غـږ راديـو مسـوول مديـر بسـم الله عـادل ايمـاق د مرغومـي پـه دوولسـمه نېټـه د دغـه ولايـت مرکـز فيـروز کـوه تـه نـږدې د ناپېژنـدو وسـله والـو لـه خـوا ووژل شـو.

د غـور سـيمه ييـزو مسـوولينو ويلـي چـې نومـوړی د ناپېژانـدو وسـله والـو پـه ډزو کـې وژل شـوی دی.

پـه غـور کـې مدنـي فعاليـن لـه حکومتـه غـواړي د نومـوړي د وژلـو عامليـن زرتـرزره پيـدا او د قانـون منګولـو تـه يـې وسـپاري.

بسـم اللـه عـادل ايمـاق د ځوانانـو د عالـي شـورا ټاکنـو پـر مهـال څـو ځلـه پـه مـرګ ګواښـل شـوی و. يـو ځـل ناپېژانـدو کسـانو د هغـه پـر موټـر ډزې وکـړې او بيـا يـې پـر کـور لاسـي بـم غورځولـی و چـې دواړه ځلـه تـرې روغ وتلـی و.

د غـور ولايـت مدنـي فعـال نثـار احمـد کوهيـن ۸صبـح تـه وويـل چـې عـادل ددغـه ولايـت مخکښ خبريـال و چـې هڅـه يـې کولـه د نابرابريـو پـه وړانـدې ودرېږي او د خلکـو غـږ پورتـه کـړي.

نومـوړي وويـل: لـه هغـې وروسـته چـې بسـم اللـه عـادل يـې پـه مـرګ وګواښـه، نومـوړي امنيتـي بنسـټونو تـه شـکايت وکـړ او د قضيـې د روښـانه کولـو غوښـتونکی شـو.

لکـه څنګـه چـې د غـور مدنـي فعاليـن وايـي، د هغـه غوښـتنه د امنيتـي مسـوولينو لـه خـوا رد شـوه او تـور يـې پـرې پـورې کـړ چـې عـادل د شـهرت ترلاسـه کولـو او پـه بهـر کـې د پنـاه اخيسـتو پـه لټـه کـې دی.

بسـم اللـه عـادل ايمـاق پـر هغـه لـه بريـده څـو ورځـې مخکـې د خپـل فېسـبوک پـر پاڼـه د شـهرت غوښـتنې موضـوع رد کـړه او د غـور لـه امنيتـي مسـوولينو يـې سـخته ګيلـه کـړې وه.

نومـوړی دېـرش کلـن او د غـور غـږ راديـو مسـوول مديـر او د امتيـاز خاونـد و چـې لـه څـو کلونـو راهيسـې يـې پـه فيـروز کـوه ښـار کـې فعاليـت کاوه.



# د ۳۰ زره بې اسنادو موټرو ثبتول؛ د يو کيلي موټرو د ثبتولو وخت يوه مياشت وغځول شو




◆ لیکنه: عبدالاحمد حسیني
◆ ژباړه: م. ظریف صمیم

په هېواد کې د یو کیلي موټرو له دوه میاشتني ثبتولو وروسته، ددغو موټرو د قانوني کولو موده وغځول شوه. د مالیې وزارت مسوولین وايي چې د بې اسنادو موټرو د ثبتولو لپاره دوې میاشتې وخت ټاکل شوی و او له دې امله چې ښايي زيات شمېر يو کيلي موټر اوس هم نه وي ثبت شوي، دا بهير د يوې بلې مياشتې لپاره غځول شوی دی. په دې موده د ماليې وزارت توانېدلی چې کابو دېرش زره بې اسناده موټر ثبت کړي او له دې ډلې يې ۲۳ زره موټر محصول کړي دي. په دې توګه ددغه شمېر موټرو له محصول کولو يو مېليارد او ۴۵۲ مېليونه افغانۍ د دولت عوايدو ته ورزياتې شوې دي. خو د اقتصادي چارو کارپوهان په دې باور دي، هغه عوايد چې د بې اسنادو موټرو د ثبتولو له لارې ترلاسه کېږي، د هېواد د اقتصاد په وده کې دومره اغېزناک نه دي؛ ځکه ټول هغه موټر چې هېواد ته واردېږي، بايد په معمول ډول قانوني او ګمرکي پړاوونه کچ کړي.

ماليې وزارت د روان کال په لړم مياشت کې د بې اسنادو موټرو د ثبتولو بهير پيل کړ. دغه وزارت ويلي و چې د يو کيلي موټرو ټول خاوندان مکلف دي چې د لينډۍ تر ۲۷مې نېټې خپل موټر د ولايتونو په ګمرکونو او مستوفيتونو کې ثبت کړي. اوس دا وزارت وايي چې د بې اسنادو موټرو د ثبتولو بهير له پيل راهيسې، دېرش زره او ۲۲۰ موټر ثبت شوي دي. د ماليې وزارت د مسوولينو په وينا، ثبت شوي موټر له ۱۹۹۱تر ۲۰۱۹ موډلونو پورې دي. د ماليې وزارت د نشراتو آمر فردين معرفتي د لينډۍ په ديارلسمه ۸صبح ته وويل چې ددغه وزارت کارکوونکو له دېرش زره او ۲۲۰ ثبت شويو موټرو ۲۳ زره محصول کړي دي. هغه زياته کړه چې ددغو موټرو د محصول کولو په پايله کې يو مېليارد او ۴۲۵ مېليونه افغانۍ د دولت عوايدو ته ورزياتې شوې دي.

خو ماليې وزارت جوته کړې چې دا وزارت د پاتې موټرو د ثبتولو لپاره، ټاکلی وخت د يوې بلې مياشتې لپاره غځولی دی. فردين معرفتي زياته کړه: «د امنيتي ترون د بلې پرېکړې له مخې، د بې اسنادو زرهي او غيرزرهي موټرو د ثبت او محصول کولو بهير، په دوه سلنې جريمې سره د يوې بلې مياشتې لپاره غځول شوی دی.» دا په داسې حال کې دي چې ماليې وزارت، د يو کيلي موټرو د بېلابېلو موډلونو په تعرفه کې تخفيف په پام کې نيولی و. ددغه وزارت د پرېکړې پر بنسټ له ۱۹۹۰تر ۲۰۰۰ موډلونو غيرزرهي موټرو لپاره ۸۵ سلنه، له ۲۰۱۰ تر

۲۰۱۶ موډل موټرو لپاره ۳۵ سلنه او له ۲۰۱۶ تر ۲۰۲۰ موډل موټرو لپاره ۳۵ سلنه تخفیف په پام کې نیول شوی دی. سربېره پر دې، له ۲۰۰۰ تر ۲۰۰۷ موډل زړهي موټرو لپاره کابو ۵۵ سلنه تخفیف، له ۲۰۰۸ تر ۲۰۱۵ موډل پورې کابو ۴۵ سلنه تخفیف او له ۲۰۱۶ تر ۲۰۲۰ موډل پورې هم ۳۵ سلنه تخفیف په پام کې نیول شوی دی. د مالیې وزارت د مالوماتو له مخې، د موټر اصلي بیه وضعیت ته یې په کتو سره ده او په دې توګه، د موټر نوی والی، موډل او نور موردونه د محصول په برخه کې رول لري چې د ګمرکونو په مالوماتي بانک کې ثبتېږي.
د مالیې وزارت د مسوولینو په وینا، هغه موټر چې د تعرفو په دغو دریو برخو کې شامل نه وي، ۲۵سلنه محصول ترې اخیستل کېږي. په دې توګه، ټول موټر له محصول کېدو وروسته د ګمرکي او ترافیکي جرمونو په معافیت کې شاملېږي.
که څه هم مالیې وزارت له دې مخکې ویلي و چې د پاکستان لاس موټر له ترافیکي بهیره ایستل کېږي، خو اوس مسوولین وایي چې په دې اړه وروستی پرېکړه نه ده شوې. د مالیې وزارت د نشرانو د آمر په وینا، کله چې په دې اړه وروستی پرېکړه صادره شي، دا وزارت به د اړتیا وړ اقدام وکړي. دا په داسې حال کې دي چې له دې مخکې د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح د شپږ نیمو بجو په تصمیمونو کې ویلي و چې د پاکستان لاس موټر په دې پروګرام کې شامل نه دي او باید له ترافیکي بهیره وایستل شي. له دې سره په یو وخت، د ترافیکو اداري هم جوته کړې چې د پاکستان لاس موټر په هېواد کې د ترافیکي پېښو اصلي لاملونه دي او د واټونو د قوانینو خلاف فعالیت کوي. ددغې ادارې په وینا، د پاکستان لاس موټر د لید ساحه تر پوښتنې لاندې راولي او په ترافیکي بهیر کې جدي ستونزې رامنځته کوي.
خو د اقتصادي چارو یو شمېر کارپوهان په دې باور دي چې د بې اسنادو موټرو له محصول څخه ترلاسه شوي عواید د هېواد په اقتصاد کې اغېزمن نه دي. د اقتصادي چارو کارپوه سیدنور الله مراد ۸صبح ته وویل چې که څه هم ددغو موټرو د ثبتولو بهیر د هېواد په اقتصاد کې اغېزمن نه دی، خو باید ټول موټر چې هېواد ته واردېږي، باید له قانوني پړاوونو تېر شي. نوموړي زیاته کړه: «دا له پخوا راهیسې یوه معموله چاره وه چې باید عملي شي.»
له بلې خوا، هغه د بې اسنادو موټرو د ثبتولو په اړه وویل چې په دې هکله باید د ترافیکو ریاست نظریات هم په پام کې ونیول شي. د ښاغلي مراد په وینا، اړتیا ده، د هغو موټرو څرنګوالی د ترافیکو د قانون له مخې په پام کې ونیول شي چې په هېواد کې فعالیت لري. نوموړي همدارازا زیاته کړه چې باید د هر ولایت ظرفیت ته پام وشي او دغه ظرفیت ته په کتو موټر ورته تنظیم شي.
د ویلو ده چې د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح، دوې میاشتې مخکې د کابل د امنیت مشري پرغاړه واخیسته. هغه د خپل کار په پیل کې اعلان وکړ چې باید بې اسناده موټر قانوني شي. د ولسمشر د لومړي مرستیال په وینا، له کلونو راهیسې د بې اسنادو موټرو د ګرځېدو په اړه شکایتونه مطرح کېږي او دا چاره د مجرمینو موندل له ستونزو سره مخامخ کوي. ښاغلي صالح خبرداری ورکړی و، که ددغو موټرو خاوندان تر دوو میاشتو مالیه ور نه کړي او خپل موټر قانوني نه کړي، دا موټر به ضبط او د پولیسو په ګزمه کې به ترې کار واخیستل شي.



# ادبي ورشو

## دخیال پرواز

ای زما د خیال پروازه پروازونه کوه
ګرځه په ټولو دنیاوالو سلامونه کوه

زموږ د ژوند کیسې خورې په ټول جهان کړه ته
په دې دنیا کې پرې خبر هر یو انسان کړه ته

ته مې د مینې نوښتګر یې نوښتونه کوه
ای زما د خیال پروازه پروازونه کوه

ورځه خبر راته د ټولو وطنوالو راوړه
ما ته احوال د خپلو ورکو افغانانو راوړه

چې چېرته اوسې دې جهان کې بیا نکلونه کوه
ای زما د خیال پروازه پروازونه کوه

هله د مینې له دنیا نه پیغامونه راوړه
د تیارو ښار ته ښه ځلانده مشالونه راوړه

د تورو شپو نه د سهار په لور مزلونه کوه
ای زما د خیال پروازه پروازونه کوه

تورې بلاوې ته د نفاق سخت ګذارونه ورکړه
بلاوې د جهل په سر ووهه وارونه ورکړه

د رڼا کور کې د ظلمت په سر تاختونه کوه
ای زما د خیال پروازه پروازونه کوه

ځه د (پردېس) په وزرو والوزه دنیا وګوره
دې خوار ملت ته یوه نوې مسیحا وګوره

د زخمي زړو سره د نوي ژوند رازونه کوه
ای زما د خیال پروازه پروازونه کوه

عرفات پردېس

## لنډۍ

په آخرت به لالې غواړم
په دې دنیا یې ظالمان نه راکوینه

په آخرت کې به نارې کړم
چې ناداني وه په ګناه نه پوهېدمه

په اوښکو لوند ګرېوان مې ګوره
ستا له پېغوره مور په کور بند کړې یمه

په باغ کې سرې غوټۍ ته وایه
چې تا ته تور کشمالي ډېر سلام کوینه

په بام ولاړه یم زنګېږم
د خوبه نه یم د یار غم غلطومه

په بل وطن کې پیدا نشوې
د نارنج ګله ننګرهار ته به درځمه

په بنګو چرسو مې کار نشته
چې د جانان په کوځه تېر شم نشه شمه

په پتاسو دې آموخته کړم
اوس د جوارو ډوډۍ خوند نه راکوینه

په تصور مې ځان پاچا کړ
چې سر مې جګ کړ ګدا د دنیا ومه

په تن مې تور چینجي لګیا شول
زړه ترېنه ساتم پکې ستا مینه لرمه

په تناره مه ورغوړېږه
د وربل څوکې به دې اور وسوځوینه

په تور لحد کې به نارې کړم
زه د دنیا نه ارمانجن راغلې یمه

# مریدنامه ۵

◆ لیکوال څېړنوال عبدالغفور لیوال

مرید خپل پیر وپوښت: د دې خلکو د ناروغۍ علاج شته؟
پیر په ډاډ ځواب ورکړ:
هو! کله چې مشران ټول مړه شي او دغه ماشومان رالویان شي او بیا د دوی بچیان وشي او رالوی شي، مینه، عاطفه او زړه سوی به بېرته ورپه یاد شي.

مرید بیا پوښتنه وکړه:
چا او څه شي دوی په دې ناروغۍ اخته کړي دي؟ حلاله ګېڼه نه وه، یو لوی سیاسي کوډګر دوی ته خپل خپلوان کافران کړل، د کافرو شویو خپلو خپلوانو کور، ښځې، ماشومان، شته او زمکې یې ورته حلالې وګرځولې، دوی بله ګټه نه شوه کولای، بس دخپل ښار او خپلوانو پر شتمنیو یې چور واچاوه، څوک یې چې مخې ته ربدل دوی به وژل. زورورو به دکمزوریو مال راخپلاوه. دې کار ورو ورو له دوی څخه عاطفه او زړه سوی هېر کړل، وروسته بیا دا ناروغي ساري شوه، ټول ښاریان پرې اخته شول. عاطفه او زړه سوی د انسان طبیعي ځانګړنه ده، خو حرص او سیاسي واکغوښتنه یې دوښمنان دي، که عقیدوي جواز ورسره ملګری شي، بیا نو د دغو انساني ارزښتونو( عاطفي او زړه سوي) ریښې له بیخه باسي. یا خو باید ټول بالغ ښاریان فناء شي او نوی نسل له خپلې خدای ورکړې عاطفې سره رالوی شي او یا هم دې ښار ته نور ښاریان راوستل شي، چې لا یې د ( ګټې) لپاره د بل ښاري وژل او خوړل نه وي زده.

خو پوه شه ! چې د دوی ناروغي پرمساپرو اغېز نه لري، ورته ځیر شه او د خپل معرفت زېرمې ته ورڅخه زده کړه وکړه.

مرید ښاریانو ته حیران شو، د دوی پرناروغۍ یې زړه وخوږېده، خو د ماشومانو په معصومو څېرو کې یې د ناروغۍ نښې ونه لیدلې، د ښار ( سبا) ته یې هیله پیدا شوه. مرید د غره په ډډه کې د هغې مغارې ترخنګ ناست و، چې ببر سری پیر یې بېګاه د ذکر وعبادت لپاره ورننوتلی و. ښکته یې هغه ښار ته کتل، چې پکې څو زورورو د خلکو پر ژوند د زبېښاک جال غوړولی و او لکه مستې زنځې یې د ښاریانو وینه زبېښله. ناڅاپه د ښکالو غږ شو، غږ د مغارې له دننه څخه و، مرید ځک ودرېده، په حیرانۍ یې خپل پیرته وکتل، چې سترګې یې ځلېدې او موسکا پرشونډو راووت. مرید وپوښت : څه وشول، چې دومره ژر راووتلې؟ نورکله خو به دې ځلوېښت ورځې پر مراقبه تېرولې....

ببرسري یې په خبرو کې ورولوېده : ماته الهام وشو، چې ښار ته ولاړ شم او ځلوېښت ورځې د ښاریانو د روايښولو پر عبادت بوخت شم. چې د خدای ج د مخلوق د هوساینې او مرښت لپاره څه ونه کړای شو، نو خدای ج ته به څه خدمت وکړو؟ ښښکه چې هغه زموږ له خدمت څخه بې نیازه دی!

راته الهام وشو، چې که د خدای بنده ګان په جګړه، ولږه او جهالت کې وي، زما عبادت به دهغو زورورو وژونکیو د سیاست په شان له ریا څخه ډک وي، چې خپل ښاریان د دین په نامه وژني او د وینو پر رود پاچاهي جوړوي. ماشومان وږي دي، کونډې له پردو ووتلې، ښار له مجبوریته د ګناهونو په ټاپو بدل شو.




# د «داسې ژوند وکړئ» کتاب د چاپ په ګاڼه سینګار شو!

◆ راپور: محمد عزیز پردېس


د «داسې ژوند وکړئ» تر عنوان لاندې کتاب چې لیکوالان یې بېلابېل دي، په ۱۲۸ مخونو کې د ښاغلي حسیب الرحمن نورمل لخوا ترتیب او پښتو ته ژباړل شوی چې تازه په کابل کې چاپ او بازار ته وړاندې شو.

د دې کتاب ژباړن له ۸صبح پښتو مجلې سره په خبرو کې وویل: «په دغه کتاب کې وړې، لنډې او اغېزناکې لارې چارې دي چې په عملي کولو سره یې کولی شو خوشاله او بریالی ژوند وکړو.»

د ښاغلي نورمل په وینا، په کتاب کې لنډې او اغېزناکې جملې له ۲۰ زیاتو کتابونو او د انټرنېټ له بېلابېلو معتبرو سرچینو را ژباړل شوې دي. په هره جمله کې ډېر رازونه او خبرې پرتې دي چې که په دقت سره مطالعه شي نو د ژوند په ډېرو چارو کې درسره مرسته وکړي.

۸ صبح پښتو مجله ◆ لومړی کال ◆ ۲۲ مه گڼه ◆ شنبې ◆ د ۱۳۹۹ د مرغومي ۲۰ مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ

# د عبدالرحمن بابا د نړۍ لید او هیمونیزم



◆ پوهنیار عبدالمجید «پردېس»

د رحمان بابا د دېوان لـه داخلـي شـهادت نـه معلومېږي چې هغـه یـو فقیـر تبعـه، ملنـگ او درویـز صفتـه انسـان و، د خپـل مالـي حالـت پـه اړه یـې ویلـي:

ځوک دې راکاندي قسم په کردگار
کــه درم لرم په کور کې یا دینار
زه درم او دینار نه لرم په کور کې
ولــې نور خلک مې بولي دنیا دار

بابا زاهد، عابد او پرهیزگاره انسان و؛ خو ریا کار نه و:

د ریا له زاهدۍ زما توبه
چې یې کاندي څوک په رسم په عادت

بابـا د خپـل دور پـر سیاسـي او ټولنیـزو حالاتـو ښـه نظـر و، د خپـل وخت د واکمنانـو پـر رویـو، نـه یـوازې خبـر و؛ بلکـې خپـل د غبرگـون یـې هـم د دوی پـر وړانـدې ښـودلی و.

په سبب د ظالمانو حاکمانو
گور و کور او پېښور درې واړه یو دي

او دا شعر چې:

شاه جهان او اورنگ زیب غوندې اشراف
صدقه شه تر منصور غوندې نداف

عبدالرحمــن بابـا د ټــول انسـانیت خیـر خـواه او د سـولې غوښــتونکی و:

ادم زاد په معنی واړه یو صورت دي
هر چې بل ازاروي هغه آزار شه

عبدالرحمن بابا رښتینی عاشق او د قبیلوي امتیاز خلاف و:

زه عاشق یم سروکار مې دی له عشقه
نه خلیل نه داوود زی یم نه مومند

همدغه حقیقي مینه ده چې انسان له ګرنګونو بچ کوي او په صراط المستقیم یې روانوي، انسان له شیطانه رحمن ته رسوي، د بابا شعر مجازي شعر نه دی بلکې یو داسې حقیقي شعر دی چې نور خلک هم د خدای (ج) مینې او محبت ته هڅوي، انسان ته د انسانیت لارې ګودرې ورښیي. هغوی ته د ښو او بدو تمیز ورښیي، د نجاد لارې ته یې راکاږي، د ازغو پر ځای ورته د ګلونو د کرلو سپارښتنه کوي:

کر د ګلو کړه چې سیمه دې ګلزار شي
ازغي مه کره په پښو کې به دې خار شي

عبدالرحمان بابا خلکو ته د ورورولۍ، وحدت، حیا، تقوا، صبر، سرښندنې، انسانیت، متانت، سخاوت، بردباری، زغم، ښېنې، صداقت، شجاعت، ځوانمردۍ او د داسې نورو ډېرو ښیګڼو تلقین د شعر په ژبه کړی دی.
صوفي بابا د انسانیت په هکله وایي:

انسانیت په ډېر دولت نه دی رحمانه
بت که جوړ شي له سرو زرو انسان نه دی

بابا په ډېرو لږو لفظونو کې د انسانیت دومره ستر تعریف کړی، چې انسان ورته حیران پاتې شي. د ده شعرونه د هر ړوند انسان لپاره د لارې مشعل او د بریالتوب یوه ستره وسیله ده، انسان د نېکۍ، ښېګڼې او د خدای (ج) د محبت په لور رابولي او خلکو ته د شیطاني مینې پر ځای د رحماني مینې درس ورکوي.
عبدالرحمان بابا یو داسې بشردوسته شاعر و چې په ډېرو ژبو کې یې کلیات ژباړل شوي او له افکارو څخه یې ډېر وګړي برخمن شوي دي، بشریت ته لکه د ژمي د لمر حیثیت لري چې د انسانانو زړونه د هغې په انسان دوسته وینا ګرم شوي دي، خلکو ته یې د خدای (ج) پیغام د شعر په ژبه رسولی دی او خلک یې اخرت ته د چمتوالي لپاره هڅولي دي:

د رحمان وینا به هلته در په یاد شي
چې یو دېوال ته مخ او بل ته دې شا شي

په زغرده ویلی شو که خوشحال خټک د توري او قلم خاوند دی نو عبدالرحمن بابا هم یو معنوي پهلوان او د قلم خاوند شاعر دی.
عبدالرحمن بابا د پښتو ژبې نومیالی صوفي او د انساني ارزښتونو پلوی شاعر و، چې د شعر اسرافیلي انګازې یې پر ټول افغانستان او ګاونډیو سیمو خپرې وې.
د بابا شعر د پښتو د کلاسیک ادب د ماڼۍ هغه دنګ برجونه دي چې کتونکي یې عجاز ته ګوته پر غاښ دي. د ده د شعر ښکلا او ځلا په دې کې ده چې شعر یې د اولس په ژبه خپل اولس ته وړاندې کړی، انساني، دیني او ټولنیز ارزښتونه یې په هماغه وینا خلکو ته اورولي چې څه ډول د خلکو غوښتنه وه.
د رحمان بابا نړۍ لید او بشرپالنه د پښتو د کلاسیکو ادبیاتو یو ځانګړی فصل دی، دی او د ده پل یوني دا دنیا د اخرت لپاره کرونده ګڼي او په خپلو نه هېرېدونکو هنري هستونو انسانان د معنوي ژوندانه د ښکلا لپاره رابولي.

بابا د انساني کرامت او بشري ارزښتونو یو مبارز شاعر ګڼل کېږي، د ده په اند انسان داسې یو ټولنیز موجود دی، چې ټول کارونه باید د یوه ریښتوني عشق په رڼا کې ترسره کړي. د نوموړي په نظر دا نړۍ خدای له عشقه پیدا کړې ځکه نو انسان ته هم ښایي چې د الهي مینې په رڼا کې هماغه چارې ترسره کړي چې هغه پرې خوشحالېږي.
دا خو ثرګنده خبره ده چې، د انسانیت د پیدایښت لومړنی اصل انسان او انسانیت ته درناوی کول دي. دی وایي:

که څوک یار په جهان غواړي یار دی دا
یار دی دا که د جهان سینګار دی دا
خیال د زلفو یې زما تر زړه چاپیر شه
یا تر ګنجه چاپېر شوی مار دی دا
دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی
د جملوو مخلوقاتو پلار دی دا
تر عشق غوره بل هېڅ په جهان نشته
تر همه کارونو غوره کار دی دا

عبدالرحمن بابا په خپل کلام کې انسان د خلاصون لورې ته رابولي او هغه ته د ژغورنې او نیکمرغۍ لار ورښیي. همداراز بابا عالمان او پوهان د دې دنیا روښنایي ګڼي او نېکمرغۍ ته د رسېدو لار د عالمانو او پوهانو په وینا کې ګوري او د دنیا د ټولو ستونزمنو چارو حل د دوی په ناسته کې ګڼي. په دې توګه:

عالمان دي روښنایي د دې دنیا
عالمان دي د تمام جهان پېشوا
که څوک لار غواړي خدای و هم رسول ته
عالمان دي د دې لارې رهنما
زه رحمان حلقه به ګوش د هر عالم یم
که اعلی دی که اوسط دی که ادنا

بابا د زمانې او خلکو له شکایت وروسته وایي، چې که څوک غواړي تر مړینې وروسته یې ګور پراخ وي، نو ځان دې پر نورو لوړ نه ګڼي، انساني ارزښتونو ته دې درناوی وکړي، د بل انسان ژوندانه ته دې په سپکه سترګه نه ګوري او ځان دې له نورو ټیټ وګڼي. له دې سره دا هم وایي چې: په دنیا کې د انسان ژوند باید چې په عزت او ربړو کې وي او د بې عزتۍ له ژوندانه مرګ غوره ګڼي په بل ځای کې بیا دا چاره د ټولې ټولنې د له منځه وړلو لاسوند ګڼي او وایي چې انسان ته ښایي د دنیا په ټولو چارو کې په ځېرلې توګه چارې ترسره کړي.

**خلاصه**

د عبدالرحمن بابا په کلام کې ډېر داسې دُر او ګوهر پراته دي چې په لا زیاتو څېړنو او پلټنو سره به رابرسېره شي، د اوس لپاره د وخت په پام کې نیولو سره د همدغې مقالې په ویلو سره بسنه کوو زموږ هیله له نورو لیکوالو او د علم او ادب له خاوندانو دا ده چې د دې ستر عرفاني او صوفي شخصیت په هکله لا ډېره څېړنه وکړي او دا د بشریت خوښوونکی ستر علم بردار ټولو خلکو ته ور وپېژني ترڅو خلک د هغه له پند او اند څخه پوره ګټه واخلي.

# د خصوصي ترانسپورت په برخه کې د فساد په اړه اندېښنه



◆ لیکنه: عبدالاحمد حسیني

◆ ژباړه: م. ظریف صمیم

د ترانسپورت وزارت وايي چې ددغه وزارت عوايد د فساد له امله په رښه او سمه توګه نه راټولېږي. د مسوولینو په وینا، تراوسه هم د ترانسپورتي عوايدو د راټولولو په برخه کې ستونزې شته او دا وزارت هڅه کوي چې د دروازو په بربښنايي کولو او فزیکي پیسو په حذفولو له فساد سره مبارزه وکړي. دا وزارت هیله څرګندوي چې د ترانسپورتي عوايدو په بانګي کولو سره په نوموړي وزارت کې فساد کم او عواید په رښه توګه د دولت حساب ته ولېږدول شي.
مسوولین باوري دي چې د ترانسپورت وضعیت د ښه کولو لپاره یې د واټونو قانون تصویب کړی چې نوی سلنه یې بشپړ شوی او په پلي کېدو سره به یې په هېواد کې ترانسپورتي ستونزې حل شي. ترانسپورت وزارت په داسې حال کې د عوايدو په راټولولو کې د فساد خبره کوي چې په روان کال کې د کورونا ویروس د خپرېدو له امله ددې برخې میلیونونه افغانۍ عواید کم شوي دي.

**د ترانسپورت وزارت مسوولین وايي چې په دغه برخه کې فساد پراخ شوی او یوه برخه عواید په رښه توګه نه دي راټول شوي.** د ترانسپورت وزیر قدرت الله ذکي د مرغومي په نهمه نېټه «له ۱۴۰۰ تر ۱۴۰۴ کال پورې د ترانسپورت وزارت د ستراتېژیک پلان د برابرولو د ارزونې» په نوم خبري ناسته کې په هېواد کې د ترانسپورت وضعیت د اندېښنې وړ وباله او زياته يې کړه چې دا وزارت هڅه کوي ددغو ستونزو د اواري لپاره حل لاره پیدا کړي.

د هغه په وینا، په تېرو څلورو میاشتو کې هڅه شوې چې یو جامع او د ترانسپورت برخې ټولو ستونزو او اړتیاوو ته ځواب ویوونکی قانون چمتو شي. ښاغلي ذکي وویل چې ددغه قانون په جوړولو کې، له عدلیې وزارت څخه قانون پوهان ورښل شوي چې یو جامع قانون برابر کړي. هغه وویل چې د ځمکني ترانسپورت د تنظیم قانون طرحه، نوي سلنه بشپړه شوې او هڅه کېږي چې زرترزره دا قانون جوړ او عملي شي. د ترانسپورت وزیر هیله څرګنده کړه چې ددغه قانون په پلي کېدو د ترانسپورتي ستونزو ډېره برخه حل شي.

له بلې خوا، نوموړي په دغه وزارت په تېره بیا د عوايدو په برخه کې پر فساد نیوکه وکړه او وې ویل، عواید لکه څنګه چې اړتیا ده نه راټولېږي. هغه وویل چې د عوايدو د راټولولو په برخه کې تراوسه هم ستونزې شته او عواید په رښه توګه نه راټولېږي. قدرت الله ذکي زياته کړه چې په دې برخه کې د فساد د مخنیوي لپاره هڅې روانې دي او دا وزارت نیت لري د هغې په وړاندې د مبارزې په موخه د عوايدو د راټولولو سیستم بربښنايي او بانګي کړي. د هغه په باور، دا بهیر د عوايدو په راټولولو کې اغېزمن کېدای شي، ځکه د فزیکي پیسو د نشتوالي په صورت کې فساد نه کېږي.

هغه وویل: «زموږ لپاره مهمه ده چې عواید راټول کړو، د عوایدو په برخه کې ډېر فساد شته. داسې میکانیزم رامنځته کوو چې د فساد مخه ونیسو او د دولت په خزانه کې کافي عواید ولرو.» نوموړي همدارازجوته کړه چې په دغه وزارت کې یې له فساد سره د مبارزې لپاره اصلاحي ریفورم په پام کې نیولی دی. قدرت الله ذکي وویل چې ددغه وزارت تشکیلات باید ځواب ویوونکي او د دې وزارت د اړتیاو له مخې وي. هغه زیاته کړه چې غواړي په نوموړي وزارت کې مسلکي او متخصص کارکوونکي وګماري چې فساد کم شي. **د ترانسپورت وزیر جوته کړه: «فساد د حکومت لپاره لویه بدنامي ده، دا چې څه ډول ورسره مبارزه کولای شو یوازینی حل لاره یې ریفورم او اصلاحات دي.»**

ترانسپورت وزارت په داسې حال کې ویلي چې عواید په رښه توګه نه راټولېږي چې دغه وزارت په روان کال کې د قرنطین د عملي کېدو له امله له مالي پلوه زیانمن شوی دی. له دې مخکې د ترانسپورت وزارت مسوولینو ویلي و چې د ځمکني ترانسپورت د تېر کال د وري د میاشتې عواید څه د پاسه ۱۵٦ میلیونه افغانۍ وو چې د روان کال په وري میاشت کې دا کچه کابو ۸۸ میلیونه افغانیو ته راکمه شوې ده. دا د تېر کال په پرتله د ۷۲ میلیونه افغانیو کمښت ښودنه کوي.

**زاړه او لوګي لرونکي موټر درول کېږي**

د ترانسپورت وزارت همداراز ویلي چې په هېواد کې ترانسپورتي ټولنې او شرکتونه غیرمعیاري دي او دا وزارت هڅه کوي چې هغوی د ترانسپورت قانون په چوکاټ کې تنظیم کړي. ښاغلي ذکي وویل: هغه ټولنې چې په هېواد کې فعالیت لري، باید په ملي او نړیوالو ستندردونو برابرې شي. هغه زیاته کړه چې په دې برخه کې ښه میکانیزم موجود دی او هڅه کېږي، دغه ترانسپورتي ټولنې او شرکتونه پکې تنظیم شي. **د ترانسپورت وزیر جوته کړه چې دا وزارت د ترانسپورتي وسایطو د تخنیکي خوندیتوب په برخه کې هم پروګرام لري. هغه زیاته کړه چې د هوا د ککړتیا د مخنیوي لپاره غواړي چې زاړه او لوګي لرونکي موټر له ترافیکي بهیره بهر کړي.**

له بلې خوا، ترانسپورت وزارت وایي چې د ځمکني ترانسپورت د خوندیتوب لپاره ملي بورډ رامنځته کوي. د ترانسپورت وزیر ددغه بورډ جوړول د ترافیکي پېښو د مخنیوي لپاره مهم بولي او وایي چې په اوسني وخت کې د ټاکلي میکانیزم د نشتوالي له امله د ترافیکي پېښو تلفات له ځانمرګو بریدونو او چاودنو زیات دي. که څه هم هغه د ترافیکي پېښو د تلفاتو شمېر په ډاګه نه کړ، خو وې ویل چې هر کال په سلګونه تنه پر لویو لارو ددغو پېښو له امله وژل کېږي. ښاغلي ذکي وویل چې ترانسپورت وزارت هڅه کوي ددغو پېښو مخه ونیسي چې خلک په خوندي توګه ولایتونو ته سفر وکړای شي.

د ترانسپورت وزیر د ښاري ترانسپورت پر سیستم هم نیوکه وکړه او وې ویل چې په ښارونو کې منظم ترانسپورت نشته. نوموړي زیاته کړه: د ښاري ترانسپورت د تنظیم لپاره یې څېړنې پیل کړې او په دې برخه کې یې د ترکیې او جاپان نظریات اخیستي چې ښاري ترانسپورت منظم کړای شي. دا په داسې حال کې دي چې تېر کال د کابل د چاپېریال ساتنې ریاست هم د اکوتاژ په نوم پروګرام پیل کړ. دغه ریاست ویلي و چې د هوا د ککړتیا د مخنیوي په موخه د ترافیک ریاست په مرسته لوګي لرونکي موټر په ګوته او له ترافیکي بهیره یې بهر کوي.



# ولسي جرگې د دولتي کارکوونکو د معاشونو د یو شان کولو طرحه تصویب کړه




◆ م. ظریف صمیم

ولسـي جرگـې د مرغومـي په اوولسـمه نېټـه د دولتـي کارکوونکو د یو شـان کولـو طرحـه تایید کړه. دا طرحه د ولسـي جرگې د دېرشـو غړو لـه خوا وړاندې شـوې وه.

د ولسـي جرگې رییـس میررحمـان رحمانـي وویـل چـې د جرگـې د غـړو د وړاندیـز له مخې، د مامورینو، ښـوونکو، متقاعدینـو، اجیرانو او سـرتېرو د معاشـونو د یو شـان کولو لپاره د ټولنیز عدالت د ټینگښـت په موخه دې له ۹۱ او ۹۲ کوډونو، ان تي اې، سـوپر سـکېل او سـي بـي آر څخـه د دوی معاشـونو تـه د رتبـو لـه مخې پیسـې ورزیاتـې شـي. دا طرحـه د رایـو په اکثریت سـره د ولسـي جرگې له خـوا تایید شـوه او د مالـي چـارو او بودیجـې کمېسـیون تـه دنده وسـپارل شـوه چـې د مالـي کال پـه بودیجـه کـې یې شـامله کړي.

پـه دغـه ناسـته کـې د ولسـي جرگـې رییـس خبـرداری ورکـړ، ترهغه چـې د ټولـو ولایتونـو لپاره پـه متوازنه توگـه بودیجه نه وي ښېله شـوې دا مسـوده بـه تایید نـه کړي.

د ولسـي جرگـې رییـس وویـل: تر هغه چـې د بودیجې مسـوده تایید او وروسـتی نـه شـي، د ولسـي جرگـې غړي بـه د ژمـي پـه رخصتیـو ولاړ نـه شـي. د نومـوړي پـه وینـا، حکومت غـواړي د بودیجـې طرحه پـه وروسـتیو ورځـو کـې وروليږي چې ولسـي جرگـه یې په بیـړه په اړه پرېکـړه وکړي.

د ۱۴۰۰ مالـي کال لپاره ۴۵۲ میلیـارد ډالـره بودیجـه اټـکل شـوې ده. پـه هغـې ۲۹۵ میلیـارده افغانـۍ عادي او ۱۵۶ میلیـارده افغانۍ هـم پراختیایـي بودیجه ده.

# د کندهار لپاره نوی والي او د ملي امنیت رییس معرفي شول

احمد شاه شاداب - کندهار

د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب د مرغومي په څوارلسمه د کندهار د امنیتي وضعیت د ارزونې په موخه د یوه پلاوي په مشرۍ دغه ولایت ته سفر وکړ.

د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب چې د کندهار د امنیتي وضعیت د ارزونې په موخه یې دغه ولایت ته سفر کړی ؤ، وایي ولسمشر کندهار ته تر سفر وروسته د خلکو په غوښتنه او د قومونو په منځ کې د وروستیو ستونزو د حل په موخه دغه بدلونونه راوستي دي.

په کندهار کې وروستیو امنیتي ګواښونو د دولت لوړپوړي چارواکي اړ کړل، چې دې ولایت ته سفر وکړي.

نوموړي د کندهار لپاره د نویو چارواکو د معرفي کولو په غونډه کې وویل: ولسمشر د خلکو په غوښتنه د دغه ولایت لپاره نوی والي، د ملي امنیت رییس او د ۲۰۵ اتل قول اردو قوماندان ټاکلي دي.

محب په خپلو خبرو کې زیاته کړه چې د کندهار خلکو، دغه غوښتنې دې ولایت ته د ولسمشر د وروستي سفر پرمهال کړې وې.

د ملي امنیت شورا سلاکار همداراز وویل چې د کندهار په امنیتي برخه کې چې کومې ستونزې او اړتیاوې وې هغه مو ټولې یادداشت کړې او د حل په موخه به یې عملي ګامونه پورته شي.

د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې په وړاندیز او د ولسمشر په منظورۍ، روح الله خان زاده خان زاده د کندهار لپاره د نوي والي په توګه، عطا محمد د دې ولایت د ملي امنیت د رییس په توګه او همدارنګه محمد شفیق رسول زی چې دوه اونۍ وړاندې د کندهار ۲۰۵ اتل قول اردو قوماندان په توګه ګمارل شوی ؤ، په دغه رسمي غونډه کې معرفي شول.

په ورته وخت کې د کندهار مخکینی والي حیات الله حیات وایي چې له پولیسو سره کمزورې همغږۍ په دې ولایت کې د حکومتولۍ پر چارو سیوری غوړولی ؤ.

له بلې خوا، د دې ولایت قومي مشران او د ولسي جرګې غړي له نویو ټاکل شویو چارواکو غواړي، چې د یوه پیاوړي مدیریت په رامنځته کولو سره دې د وروستیو امنیتي ګواښونو مخنیوی وکړي.

د کندهار لپاره د دغو نویو چارواکو ټاکنه داسې مهال کېږي، چې د دې ولایت په اوو ولسوالیو کې له تېرو درېیو میاشتو راهیسې پرلپسې جګړې روانې دي او طالبانو یو شمېر سیمې له حکومتي ځواکونو څخه نیولې دي.



# په سمنگان کې د ډبرو سکرو د یوه کان د نړېدو له امله درې تنه مړه شول



◆ ژباړه: محمد عزیز پردېس

د ډبرو سکرو درې کان کیندونکي چې د دایکنـدي ولایت اوسېدونکي وو، د سـمنگان ولایت دره صوف ولسـوالۍ د ډبرو سـکرو د یـوه کان د نړېـدو لـه املـه مړه شـوي دي.

د سـمنگان والـي، داوود کلکانـي لـه ۸صبـح سـره پـه خبرو کـې وویل چې دغه کان د سـمنگان دره صوف بالا ولسـوالۍ په شباشـک سـیمه کـې موقعیـت درلـود او د مرغومي په ۱۱مـه ونړېد.

د سـمنگان والـي د معلوماتـو پـه اسـاس، د دې پېښـې پـه پایلـه کـې درې مړه شـوي کسـان د دایکنـدي ولایـت اوسـېدونکي وو.

د سـمنگان والـي وویـل چې د ډبرو سـکرو دغـه کان د «حاجي حیدر» پـه نـوم یـوه شـخص پـورې تـړاو لـري او لـه دې کان څخـه پـه ناقانونه توگـه د ډبـرو سـکاره ایسـتل کېـدل. تـر دې دمـه د دغـه کان د نړېـدو لامـل نـه دی څرگند شـوی.

لـه دې وړانـدې هـم د سـمنگان ولایـت پـه دره صـوف بـالا ولسـوالۍ کـې ورتـه پېښـې شـوې دي.

پـه دغـه ولسـوالۍ کـې د ډبرو سـکرو ډېر کانونـه موجـود دي او ډېری د ډبـرو سـکاره د خلکـو لـه خوا پـه غیرمسـلکي توگه ایسـتل کېږي.

د یادونـې وړ ده چـې د روان کال پـه غبرگولـي میاشـت کـې هـم د شباشـک پـه سـیمه کې د ډبرو سـکرو په یـوه کان کـې چاودنـې څلـور تلفـات لرل.

# په هلمند کې د سلګونه مېرمنو لپاره د کاري زمينې برابرول

احمد شاه شاداب

يوې هلمندۍ مېرمنې د يوې کارخونې په جوړولو سره سلګونه ښځو ته د کار زمينه برابره کړې ده.

په هلمند د لاسي صنايعو په دغه کارخونه کې هغه مېرمنې کار کوي چې د خپلې کورنۍ سرپرستي پر غاړه لري او په خپل زيار سره د کورنۍ اړتياوې برابروي.

دغه کارخونه چې د يوې هلمندۍ مېرمنې له خوا جوړه شوې ده، په دې ولايت کې يې ۳۰۰ بې سرپرسته ښځو ته د کار او لاسي صنايعو د زده کړې زمينه برابره کړې او له دې لارې خپلو کورنيو ته حلاله روزي پيدا کوي.

دغه مېرمنې په کارخونه کې جامې او ځانګړې هلمندۍ څپلۍ جوړوي، چې د ننه په هېواد پلورل کېږي، خو دوی خپلو توليداتو ته د بازار موندنې غوښتنه کوي.

د کارخونې مسووله نسيمه اسحاقزۍ وايي چې د چا له مرستې پرته يې يو کال مخکې دغه کارخونه په پنځو مېرمنو سره پيل کړه چې د کارګرو مېرمنو شمېر ورځ تربلې زياتېږي او دا مهال سلګونه کارکوونکې لري .

آغلې اسحاقزۍ زياتوي، توليد شوي توکي نه يوازې په هلمند بلکې د هېواد په يو شمېر نورو ولايتونو کې هم بازار لري خو د دوی اړتياوې نه شي پوره کولای.

د څپليو او لاسي صنايعو په دغه کارخونه کې اوسمهال په درېو جلا جلا برخو کې ۳۰۰ مېرمنې کار کوي.

د کارخونې کارکوونکې هم وايي چې له دې مخکې له ګڼو ستونزو سره مخامخ وې خو اوس په خپله د کورنۍ اړتياوې پوره کولای شي. اخوا د هلمند د ښځو چارو رئيسه وايي چې د نسيمې اسحاقزۍ کارخونې د ډېری هغو مېرمنو په ژوند کې مثبت بدلون راوستی چې خاوندان يې په جګړو کې له لاسه ورکړي دي.

هغه وايي چې له دغې کارخونې سره د ښځو چارو رياست او کومې موسسې له خوا همکاري نه کېږي بلکې مېرمن اسحاقزۍ په خپلو امکاناتو دا کارخونه جوړه کړې ده.

د ښځو چارو رئيسه زياتوي چې ددې ترڅنګ د سينګار او خياطۍ دوه نور کار ځايونه هم شته چې مشري يې د ښځو له خوا کېږي.

نوموړې وايي، په وروستيو جګړو کې ددې ولايت ډېری سل داسې کورنۍ ثبت کړې چې هېڅ نارينه نه لري او د کورنۍ د لګښتونو برابرول او سرپرستي د مېرمنو پر غاړه ده.

که څه هم په دې ولايت کې کلتوري محدوديتونه شته، خو سره له دې په دغه کارخونه کې د ښځو لپاره د کار زمينه برابره شوې ده .



# د ۸صبح انګلیسي وېب پاڼه فعاله شوه

◆ م. ظریف صمیم


اوس د ۸صبح لوستونکي کولای شي د دري او پښتو وېب پاڼو ترڅنګ په انګلیسي ژبه هم د ۸صبح مطالب ولولي.

د ۸صبح په انګلیسي وېب پاڼه کې (8am.af/eng) د دغې ورځپاڼې بېلابېل مطالب په انګلیسي ژبه خپرېږي.

د ۸صبح ورځپاڼې فعالیت د ۱۳۸٦ کال په غبرګولي میاشت کې په هېواد کې په پراخ پوښښ سره د یو شمېر مطرح ژورنالیستانو او د بشري حقونو او رسنیو د فعالینو له خوا پیل شو چې د دېموکراسۍ او ولسواکۍ په برخه کې اغېزمن رول ولوبوي.

۸صبح په دې موده کې د خبري او تحلیلي مطالبو په خپرولو او په سیاسي او ټولنیزو برخو کې د افغانانو ترمنځ د وحدت او یووالي لپاره د زمینې په برابرولو شهرت ته ورسېده.

په پښتو او انګلیسي ژبو به هم همدا تګلاره تعقیب شي. له دې مخکې ۸صبح په پښتو ژبه د مجلې په بڼه فعالیت پیل کړ، د ۸صبح په پښتو مجله او وېب پاڼه (ps.8am.af) کې په زړه پورې سیاسي، کلتوري، ادبي، ټولنیز او سپورتي مطالب خپرېږي. د ۸صبح پښتو مجله هره شنبې چاپېږي.









دادی د فساد سرطان، څو خبښتې راولوېدې:
فساد د ځوان جمهوري نظام پر غاړه، راڅوکېدلې (مرداردانه) ده! ښايي د جمهوريت او نظام ژغورلو نيم کار، د فساد سرطان، پر موقع او ژوره جراحي وي!
سترګې پر لار يو:



عکسونه له تولنیزو شبکو کاپي شوي دي.

Magazine
Hasht e Subh
Yesterday's Narrative
Today's Mirror
Tomorrow's Hope





















عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.

یو تمدن چې یوازې د عقل په خښتو ولاړ وي؛ نو کله کله عقلي سکتې هم کوي!!
هغه څه چې د زړه په اوږو مخ په بره ځي، تر ابده به قد باسي.
مورږ ته لازمه ده، د یوه ژوندي ملت په توګه، د خپل ډاډمن ژوند، ودې او
سوکالۍ لپاره، پخپله لاس په کار شو.